مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۳/۱۳

# لندۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۶۵مه برخه

خدای مې دې خپلوطن راجوړ کي
په پردیسی کې مې زړه شین دی، مړ به شمه

خندا مې نهده زده عالمه
خو د ژړاچل راله سلېدوله راځینه

ته مخامخ راباندې راشه
زه مې پلو درته قصدي خطاکومه

ما درته وې چګړې ته مهځه
د جیبشیان دې رالېږي، تا ښنوینه

د لنډیو د دې برخې له پاره دا لاندې لندۍ راټولې شوي دي:

چې مې نصیب د بدو نهوای
ږ سپینمیدان به لالي ولې پرېښنودمه

چې دې په خپله پرځان کړي
اوس ورکوه زړه ته د صبرټکورونه

چا ته مې سترګې نهغړېږي
بلا دې واخلم په ریښتیا نیمګړېشومه

چې وخت تېرېږي، غم دېرېږي
نهپورهکېږي د بدمرغزړه ارمانونه

چې څه مې غوښتي، خدای راکړي
د تا کمی دی، نور مو نهشته ارمانونه

ځومره چې ستا ښلتانه راکړل
لیدلي نه وو ما په ژوند دومره دردونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ښنگه بېوسه ورته ګورم
د یار کفن تیاروي، په سفر ځینه

څه چې کوي، راسره وکړه
د لالېغمه په میراث درپاتېیمه

ښنگه بېوسه ورته ګورم
زور د پیسو دی، یار دبل غېږې ته ځینه

خدای مې دې خپلوطن راجوړ کي
په پردیسۍ کې مې زړه شین دی، مړ به شمه

خندا مې نهده زده عالمه
خو د ژړاچل راله سلډوله راځینه

خدایه که غږ مې دررسېږي
له پاتې ژونده مې وینځلي دي لاسونه

ځنگل ته مهځه د تروړزویه
ملا دې سر باندې شمبرليدي لوټونه

جینۍ تربور دې میړه مهشه
ښه او ناښه به دې په ضد حسابوینه

بېلتون د زغم خبره نهده
نور به په چغو، چغو کلي خبرومه

بېګا په کور کې ټول راټول وو
ته پهکې نهوې، ما دې وکړل ارمانونه

باران وربېږي شال پرسرکه
پېرېان مې نیسي چې لمده دې ووینمه

بیا به نرۍکمیس ونهکړم
پرون باران و، جانان ټولهولیدمه

ته مخامخ راباندې راشه
زه مې پلو درته قصدي خطاکومه

په بند نمبر دې خاورې واوړه
د ښبکې کیسې مې زړه سوی کوینه

پرون پهخوا کې راسره و
نن یې په خپل لاس پر مزار ګلونهږدمه

پر ما دې ځوانهځواني اورکړه
پر تا دې اورشي د همځولومجلسونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په خوله ويلو حاجت نـه‌شته
سترګې مې ولوله، ترې واخله ځوابونه

په تا خو نورکلي اباد شول
په ما تیارې میلې ړنګې شوې مێنه

په مازدیګر دې کډې‌لاړې
هرمازدیګر درپسې اوښکې تویومه

په خوله خاموشه کلیواله
لږ راتپه شوه چې مې تنده ماته‌شینه

په تصور مې زړکی شین‌شو
څو د لیدو مهال راځي، خاورې به یمه

په حیرانۍ کې یمه غرکه
رانه چاپېر دي د خواږه جانان غمونه

پردی وطن د سرېښو ډنډ دی
زه یې پر غاړه ګرځېدم، ورولوېدمه

په خوله توبې توبې اوباسم
په تا مئین زړه مې توبې نـه‌قبلوینه

په څه مېده‌باران کې راغلې
مخ دې دروچکړم، که دې غېږ کې ونیسمه

په لرې ملک کې مسافره
په پال به نیسو د مرغانو اوازونه

کرار، کرار لیونی کېږم
د جدایي زهر لالې راکړي‌دینه

که مې د زړه کیسې شروع‌کړې
دا ناست ولاړ خلک به ټول وژړومه

که ورکوئ، ورله مې ورکئ
هـغه زمـا لـه‌پاره سختې تـېـروينه

کړی دیدن مې دربښلی
نور که ژوندی وم، په طرف دې نـه‌درځمه

که تا زما زړه ته کتلی
زه به دا وچې شوندې ولې ګرځېدمه

ما ته په لار کې مه‌درېږه
په ما جرګه‌شه، چې د کور ښځه دې شمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ما په خندا، خندا رخصت کړ
مسافر څوک په ژړا نه‌رخصتوينه

ما درته وې جګړې ته مه‌ځه
د جيبشيان دې رالېږي، تا خښنوينه

مشره دې بل‌هلک ته ورکړي
دغه کشرۍ لور دې بيا ما ته وساتينه

ما درته ويل چې توپک کېږده
د کتار سرته دې دانګل، کونده دې کړمه

مورې بلۍ پر بلۍ ګرځي
د ميومونې ځادر به چا موندلۍ‌وينه

مينه چې راشي، سرۍ ړوندشي
جنۍ د مصربنار پرېږدي، يار سره ځينه

مودې دې وشوې چې رانغلې
ورکه لالـيه انـتظار دې وخـوړمه

زموږ دې زړونه پرې اوبه کړل
څه ښکلي سترګې دوالجلال درکړې‌دينه

زړه به مې څه خوشحالي وکړي
د تسلۍ ياران مې ورکـشول له وطنه

زما د دواړوسترګو توره
په زوره، زوره ژړا تاپسې کومه

زما د غرونو خلک خوښ دې
نه کبرجن دي، نه لوظونه ماتوينه

زړګيه غم ته ځان تکړه که
جانان لګيا دی، نوی‌يار پيداکوينه

زما پرې تنده ماته نه‌شوه
لاسونه جګکړه، غاړه بيا راکړه مێنه

زه څه اوبو راوړې نه‌يم
چې ته مې نه‌منې او زه به دې منمه

زما جانانه مسافره
چې ته راځې نو زه به تورې‌خاورې خورمه

زړه مې دې ستا په غېږ کې وچوې
چې د چورمو کميس دې رنګ په وينوشينه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د بېشرمي غونډې بېخونده
غمجنهژونده، وچ په زور دې تېرومه

د جنۍمورې جنتي شې
لور دې د زلفو سيورى ما باندې کوينه

د وچې ونې په مثال يم
باد مې ځانګونه ماتوي، لغړ يې کړمه

د ليونۍ پر زړه به څه وو
وروستي ديدن کې يې کاږه راوکاتنه

د مسينجرغمى يې شين دى
اوس زړه نا زړه يمه چې څه ور ولېږمه

د چا چې يار کلي کې نهوي
لکه چې ملک په زلزله وران شوىوينه

د خپل ښايست روى ته دې ګوره
نور مې د اور په لمبو مهسېځه ميئنه

د مينې ځائى مې په کې نه و
د جانان زړهٔ مې ګوټ په ګوټ ولټوونه

د ميلمنېجنۍ ياري ده
نه يې جانانکړم، نه يې راکړل ځوابونه

د مازديګر اذان پرې وشو
خورکۍ د ورور پر قبر کانې سموينه

له رنګه سپينه، نازنينه
مه راته ګوره، مور مې شاپسې راځينه

لاسونه، پښې په رپيدو شول
لالى بيليږي، د سفر پر لورې ځينه

له مجبورۍ مې خبر نهدي
ياران خپه دي، ما په خداى سپارلېدينه

لالى دې خپله خوښهوکړي
که بې له مايې وخت تېرېږي، بيا دې ځينه

لاړو جانان له ملکه ورکشو
په نړېدلي ديوال چا ته ودرېږه

ښايست مبو، نصيب مې نهو
د لارېوم، خلکو پانې ـ پانې کړمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**ښځه په هرسړي کونډېږي**
**سړی هغه دی چې پرې خاوره کونډه‌شینه**

**سر مې که یوماښام سرتورکړ**
**بیا به دې مور په زیارتونو ګرځوینه**

**یار مې ولور له ملکه ورک کړ**
**د ځوانی عمره په رواج دې تېرومه**

**افغان بدمرغه نه‌دی، څه‌دی**
**په خپل‌وطن کې کډې کښته‌پورته وړینه**

**اه پخوانی ځواني مې نه‌شته**
**باور دې وشه، غم دې تکه زېړه کړمه**

**اوښکو زما غمازي‌وکړه**
**کال مې د زړه پرمخ‌لیکي، رسوا یې کړمه**

**عمر دې دېرشه، خوړه‌یاره**
**زما د زړه ستني پر تا ولاړې‌دینه**

**قصه اوس ختمه ده جانانه**
**د ژوند په هره لار دې زه بایللې‌یمه**

**ولې به نه‌ژاړم عالمه**
**جانان پاخه‌لوظونه مات کړل ما پرېږدینه**

**نه مې په زړه کې دومره زور شته**
**نه مې مری ښې‌دي چې چیغې ووهمه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

[http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95](http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ